# الرعد

**مدنی سورة دی ۴۳ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِۗ وَٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ١

**الف- لام- میم- را( په حقیقی معنی يې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهيږی) دا د ( با عظمته الهی) کتاب آیتونه دی او هغه کتاب چې ستا د رب له لوری تاته نازل شوی، حق او ربښتیا دی خو زیاتره خلک بیا هم( د عناد او لجاجت له مخې له یوه مسلم حقیقت نه منکریږی) او ایمان نه راوړی.**

ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ
ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ
لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ٢

**الله تعالی هغه ذات دی چې آسمانونه يې پورته کړی او بې ستنو يې درولی چې تاسو يې پخپله وينئ او وروسته د سلطنت او فرمانروايی په تخت کيناست( لکه څنګه چې يې د الوهيت له شان سره مناسب دی ) او لمر او سپوږمۍ يې مسخر کړل چې هر يو تر يوې ټاکلې مودې( قيامته) په حرکت کې دی،( د خپل سلطنت ) ټولې چارې په پوره تدبير سره چلوی او( د خپل قدرت او حکمت) نښې په وضاحت سره بيانوی تر څو تاسو د خپل رب په ملاقات( او حساب کتاب) باور وکړی.**

وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنْهَٰرًا ۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ
جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ ۖ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ
يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې ځمکه یې وغوړوله او په هغې کې یې( درانه او ثابت) غرونه ټینګ کړل( چې د مستحکمو او مضبوطو میخونو په شان ولاړ دی) او بهاند سیندونه یې پکې روان کړل، ټولې میوې( او کرنیز محصولات یې جوړه جوړه( نر او ښځه) پیدا کړی، شپه په ورځ پوښوی (ترڅو د موجوداتو او نباتاتو ژوند تضمین شی) بیشکه چې په دې ټولو چارو کې، د غور او فکر د خاوندانو لپاره (د الله تعالی د توحید، ربوبیت او کامل قدرت) نښې پرتې دی.

وَفِى ٱلْأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَٰوِرَٰتٌ وَجَنَّٰتٌ مِّنْ أَعْنَٰبٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ
صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَىٰ بِمَآءٍ وَٰحِدٍ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَىٰ بَعْضٍ
فِى ٱلْأُكُلِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾

او په ځمکه کې جلا جلا سطحې او سیمې څنګ په څنګ واقع دی ، د انګورو باغونه دی، د غلو دانو کښتونه دی او د کجورو داسې ونې دی چې د ځینو یې جلا جلا ښاخونه له یوه ډډ نه پورته شوی او د ځینو یې له هر ډډ نه یوازې یوه ونه پورته شوې ده . ټولو میوو او محصولاتو ته یو شان اوبه ورکول کیږی خو بیا هم مونږ ځینو ته( په خوند اوتاثیراتو کې) په ځینو نورو امتیاز او غوره والی ورکړی دی.بیشکه چې په دغو چارو کې، د عقل او پوهې لرونکو لپاره( د الله تعالی د توحید، ربوبیت او قدرت) ثبوتونه پراته دی.

۞ وَإِن تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ ۗ
أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ ٱلْأَغْلَٰلُ فِىٓ أَعْنَاقِهِمْ ۖ
وَأُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٥﴾

او که ته تعجب کوې نو د لجوجو منکرانو خبرې د زیات تعجب وړ دی( چې د الله تعالی ټولو قدرتونو ته په پوره بې اعتنایۍ سره وایی:) آیا مونږ چې خاورې شو، بیرته به راژوندی کیږو؟ دا هغه کسان دی چې پخپل

رب کافران شوی او همدا کسان دی چې( په دنیا کې به د ګمراهۍ او په آخرت کې به ورته د عذاب) اوسپنيز ځنځيرونه غاړو ته ورواچول شی، او بیشکه چې دوی د (دوزخ ) اهل دی چې تل تر تله به پکې پراته وی.

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ وَقَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِمُ
ٱلۡمَثُلَٰتُۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلۡمِهِمۡۖ وَإِنَّ رَبَّكَ
لَشَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٦

او ستا نه ( د استهزا، جهل او ناپوهی په اساس) د خیر او نیکمرغۍ( له درخواست) نه وړاندې، د عذاب د نزول غوښتنه کوی( او داسې انګیری چې ګواکې الهی عذابونه او مجازات دروغ دی) په داسې حال کې چې له دوی نه وړاندې( په کافرانو) له عبرت نه ډک عذابونه راغلی وو، بیشکه چې ستا رب د خلکو د ظلمونو او تیریو په مقابل کې ښښونکی او مهربان ذات دی او بیشکه چې ستا رب د سختو مجازاتو او سزاو ورکوونکی هم دی.

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦٓۗ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٞۖ
وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ٧

او کافران وایی: ولې یې په ده باندې د رب له لوری معجزه نه ده نازله شوې؟ ته یوازې اخطار ورکوونکی یې( نه معجزه جوړوونکی چې هر چاته د غیر منطقی غوښتنو په مقابل کې فرمایشی معجزې وړاندې کړې) او د هر قوم او ملت لپاره ځانګړی لارښود هم شته( یعنې پیغمبر چې هغوی د هدایت او نیکمرغۍ لوری ته رابولی).

ٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ ٱلۡأَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُۖ
وَكُلُّ شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ٨

الله تعالی د هرې حاملې ( انسان دی که حیوان) په رحم کې د شته نطفې ( په ټولو خواصو او صفاتو) ډیر ښه پوهیږی، او په ارحامو کې د حمل د مودې د کمښت او زیاتوالی علم هم یوازې له الله تعالی سره دی او( د ژوند د مودې او رزق په شمول) هر شی د هغه په نزد یوه ټاکلې اندازه لری.

عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ ٩

(الله تعالی) په پټو او ښکاره و هرڅه ډیر ښه پوه او د لوړې او اعلی مرتبې څښتن ذات دی.

سَوَآءٞ مِّنكُم مَّنۡ أَسَرَّ ٱلۡقَوۡلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنۡ هُوَ مُسۡتَخۡفِۢ
بِٱلَّيۡلِ وَسَارِبُۢ بِٱلنَّهَارِ ١٠

که تاسو پټې خبرې کوئ که په جهر او که څوک په توره شپه کې ځانونه پټ کړی او که د ورځې ( په کار روزګار بوخت دی) خو د الله تعالی لپاره یې هیڅ توپیر نشته( او ستاسو په ټولو اعمالو پوره خبر دی).

لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٞ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ
لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ سُوٓءٗا فَلَا
مَرَدَّ لَهُۥۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ١١

په هر چا پسې له وړاندې او ترشا( او ټولو اطرافو) څارونکې (ملایکې) ټاکل شوی چې د الله په حکم یې( هم اعمال لیکی او هم یې له آفاتو او مصیبتونو څخه مصئون) ساتی. بیشکه چې الله تعالی د هیڅ یوه ملت حال نه بدلوی تر څو هغوی پخپلو اعمالو او عقایدو کې بدلون را نه ولی.او کله چې الله تعالی یوه ملت ته د سزا ورکولو اراده وکړی هیڅوک یې مخه نشی نیولی، ځکه هغوی د الله تعالی نه غیر، بل هیڅ دوست او مرستندوی نه لری.

هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنشِئُ
ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ١٢

(الله تعالی) هغه ذات دی چې( د وریځو له ټوټو) درته برېښنا ځلوی چې هم( یې له تندر او سیلابونو څخه) ویرېږئ او هم مو ورسره( د خیر د باران او کرنیزو محصولاتو د ودې لپاره) هیلې تړلی دی.او دغه راز یې درته له اوبو ډکې وریځې پیدا کړی دی.

وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعۡدُ بِحَمۡدِهِۦ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ مِنۡ خِيفَتِهِۦ وَيُرۡسِلُ
ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ وَهُمۡ يُجَٰدِلُونَ فِي ٱللَّهِ وَهُوَ
شَدِيدُ ٱلۡمِحَالِ ﴿١٣﴾

او برښنا پخپل کړسهار کې( د حال په ژبه)د الله تعالی تسبیح اوستاینه کوی او پرښتې هم( د قال په ژبه) د هغه له ویرې( تسبیحات وایی) او دغه راز، تندرونه رالیږی او که چاته اراده وکړی، په داسې حال کې یې وراندې راغورځوی چې دوی( په ټولو الهی قدرتونو سترګې پټوی او ) د الله تعالی د ذات په باب په مجادلو او بحثونو بوخت وی( چې ښه مثال یې هغه عرب سردار و، چې پیغمبر علیه السلام ورته د راتګ او ملاقات لپاره، دوه ځله خپل استازی واستاوه خو هغه په ډیره ګستاخئ ځواب ورکړ چې زه نه الله پیژنم او نه یې پیغمبر.او په همدې جرو بحث کې وراندې آسمانی تکه راپریوته او هلاک شو) بیشکه چې الله پاک د سختو جزایی اقداماتو لرونکی دی.

لَهُۥ دَعۡوَةُ ٱلۡحَقِّۖ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيۡءٍ إِلَّا
كَبَٰسِطِ كَفَّيۡهِ إِلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي
ضَلَٰلٖ ﴿١٤﴾

د حق دعوت( یعنې د حق کلمه « لا اله الا الله » او یا د ویرې او اضطراب دعا ) یوازې د الله تعالی دربار ته ځانګړی دی او هغه( شیطانان،پیریان او بتان) چې مشرکان یې د الله تعالی په مقابل کې په خدایئ نیسی د دوی هیڅ ډول غوښتنه او استدعا نه منی، بلکه( له هغو څخه د دغو ناپوهانو د دعا مثال داسې دی) لکه یو تږی چې( له لیرې فاصلې نه) اوبو ته لاس غزوی، ترڅو یې اوبه خولې ته راشی، په داسې حال کې چې اوبه یې هیڅکله خولې ته نه رسیږی. په همدې توګه له غیرالله څخه د کافرانو دعا او درخواست بې له زیان او تاوان، بله ګټه نه لری.

وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَظِلَٰلُهُم بِٱلۡغُدُوِّ
وَٱلۡأٓصَالِ۩ ﴿١٥﴾

د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات، که یې خوښه وی، که نه، او حتی د دوی سیوری هم سهار او ماښام، الله تعالی ته په سجدو پراته دی.

قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ قُلِ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِى ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ ۗ أَمْ جَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوا۟ كَخَلْقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّٰرُ ﴿١٦﴾

**(ای پیغمبره! له مشرکانو) وپوښته: د آسمانونو او ځمکې رب څوک دی؟ (بیا ورته بې له ځنډه) ووایه چې الله تعالی دی. بیا ورته ووایه: هغه باطل خدایان او مرستندویان چې تاسو یې د الله تعالی په مقابل کې د عبادت لپاره غوره کوی، نه خپلو ځانونو ته کومه ګټه رسولی شی او نه کوم زیان (دفع کولی شی). دوی وپوښته چې آیا ړوند او بینا یوشان دی؟ او آیا تیاره او رڼا یوشان ده؟ یا د دوی شریکان، د الله تعالی د مخلوقاتو په شان کوم پیدایښت او مخلوق لری چې دوی یې ترمنځ فرق او توپیر نشی کولی؟ ورته ووایه:( مسلم حقیقت دا دی چې)د ټولو شیانو خالق او پیدا کوونکی یوازې الله تعالی دی چې واحد او برلاسی ذات دی.**

أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَٱحْتَمَلَ ٱلسَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِى ٱلنَّارِ ٱبْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَٰعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ وَٱلْبَٰطِلَ ۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمْكُثُ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ ﴿١٧﴾

**الله تعالی له آسمانه اوبه رانازلوی، په هره دره کې د هغې د پراخۍ او ګنجایش په اندازه سیلابونه راځی او دغه سیلابونه د اوبو په سر ځګونه راپورته کوی او همدا ډول ځګ د هغو فلزاتو په سر هم راخیژی چې د ګاڼو او لوښو د جوړولو لپاره په اور ویلی کیږی. همدا مثال، الله تعالی د حق او باطل په باب هم وړاندې کوی، چې ځګ( کفر او باطل) اخوا دیخوا خپور او ورک شی خو( پاکې اوبه او خالص فلز یعنې حق او ایمان) چې خلکو ته ګټور دی په ځمکه پاتی کیږی. په همدې توګه الله تعالی( د حق او باطل په باب متفکرینو ته)دا ډول مثالونه بیانوی.**

**( په دې مثال کې د قرآن مجید مثال د حقیقت او ایمان د نور په حیث، د زړونو په ژوندی کولو کې، د رحمت له هغه باران سره تشبیه شوی چې مړه ځمکه راژوندۍ کوی، او یا هغو معدنی جواهرو ته ورته دی چې خلکو ته**

ګټه په لاس ورکوی، خو کفر او باطله عقیده د اوبو د سر ځګ او له کانونو څخه پاتې شوی خس او خاشاک او خیری او کثافات دی. د مثال هدف دا دی چې خلک باید په ښه توګه د حق او باطل توپیر وکولی شی).

لِلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُۥ لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡحِسَابِ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٨﴾

د هغو کسانو لپاره چې د خپل رب احکام او فرامین یې منلی( او لبیک یې ورته ویلی) نیک انجام او نیکمرغه عاقبت لیکل شوی او هغه کسان چې( د الهی احکامو له منلو نه ) انکار کوی، که د ځمکې د دوه چنده شتمنیو څښتن هم وی، بې له شکه به یې له عذابه د خپل نجات لپاره فدیه کړی خو محاسبه یې بیاهم ډیره سخته ده، هستوګنځی یې دوزخ دی چې د ورتګ لپاره ډیر ناوړه مسکن دی.

۞ أَفَمَن يَعۡلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ أَعۡمَىٰٓۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿١٩﴾

نو آیا هغه څوک چې ستا د رب له خوا تاته د نازل شویو (آیتونو او احکامو) په حقانیت پوه او قایل دی، د هغه چا په شان دی چې ( په باطنی توګه) ړوند دی( او له دغه حقیقت نه سترګې پټوی). بیشکه چې یوازې د پوهې او بصیرت خاوندان د پند اخستلو استعداد لری.

ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ ٱلۡمِيثَٰقَ ﴿٢٠﴾

( د بصیرت خاوندان) هغه کسان دی چې له الله تعالی سره پخپلو وعدو وفا کوی او تعهدات نه ماتوی.

وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢١﴾

او هغه کسان دی چې( د خپلوۍ او دوستۍ) اړیکې چې الله تعالی یې د وصل او پیوستون امر کړی، ټینګې ساتی، د خپل رب نه ویریږی او د سخت حساب کتاب ویره او تشویش هم ورسره وی.

وَٱلَّذِينَ صَبَرُواْ ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ
سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ٢٢

**او د خپل رب د رضا حاصلولو لپاره( کړاوونه او مصيبتونه) په سړه سينه زغمی، لمونځونه کوی او له هغې شتمنۍ نه چې مونږ ورکړې، په پټه او ښکاره صدقې او خيراتونه ورکوی او د بدۍ په مقابل کې نيک عکس العمل لری. بيشکه چې د آخرت د جهان نيکمرغی د همدوی په برخه ده.**

جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ
وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ ٢٣

**ابدی او تل پاتې جنتونه دی چې دوی او د دوی نيک عمله پلرونه، د ژوند ملګری او بچيان به پکې اوسی او له هرې دروازې به ورته پرښتې راننوزی.**

سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ٢٤

**( او ورته به وايی) ابدی سلامتی دې وی په تاسو، ستاسو د صبر او ثبات په بدل کې. همدا( ستاسو لپاره) تر ټولو غوره هستوګنځی دی.**

وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ
أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ٢٥

**او لعنت او ناوړه سرنوشت د هغه چا په برخه دی چې له الله تعالی سره خپل کړی تعهدات ماتوی او( د خپلوۍ او دوستۍ) هغه اړيکې پرې کوی چې الله تعالی يې د وصل او پيوستون امر کړی، او په ځمکه کې د فساد او ګډوډۍ جوړوونکی دی.**

ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا
فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ ٢٦

**الله تعالی (د خپلې ارادې او مصلحت سره سم) د ځینو خلکو روزي پراخوي او په ځینو نورو تنګسیا راولي،( او هغه کسان چې د آخرت په ابدي سوکالۍ او نیکمرغۍ عقیده نه لري) زړونه یې یوازې د دنیا په فاني خوښیو او عشرتونو پورې تړلي دي، په داسې حال کې چې د آخرت په مقابل کې، د دنیا ژوند د یوې بې ارزښته متاع حیثیت لري.**

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۗ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَنۡ أَنَابَ ﴿٢٧﴾

**او کافران وایي: ولې په ده( پیغمبر) باندې کومه معجزه نه راښکته کیږي؟ ورته ووایه: چا ته چې الله تعالی اراده وکړي( د اتمام حجت نه وروسته یې) بې لارې کوي او څوک چې الله تعالی ته رجوع وکړي نو هغه یې د هدایت په لاره روانوي.**

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾

**( الله تعالی ته رجوع کوونکي) هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی او زړونه یې د الله تعالی په ذکر ډاډمن او مطمین دي. هو- یوازې او یوازې الهي ذکر دی چې زړونه ورباندې هوسا او ډاډمن کیدی شي.**

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ ﴿٢٩﴾

**هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیک کارونه یې کړي، نیکمرغي یې په برخه او ورتګ یې هم تر ټولو غوره هستوګنځیو ته دی.**

كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾

**(لکه څنګه چې مو پخوانی رسولان لیږلی) ته مو هم داسې یوه امت ته، چې وړاندې ترې نور امتونه تیر شوی وروا‌ستولې، ترڅو ورته هغه احکام واوروی چې مونږ تاته د وحی په واسطه درکړی، که څه هم دوی( له الهی احکامو نه په سرغړونې سره) له مهربان خدای نه منکر دی.( ای پیغمبره!) ورتهووایه: همدا مهربان خدای زما رب دی، له هغه نه غیر، بل خدای نشته. یوازې په هغه مې توکل دی او بیرته ورتګ هم د هغه حضور ته دی.**

وَلَوْ أَنَّ قُرْءَانًا سُيِّرَتْ بِهِ ٱلْجِبَالُ أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ ٱلْأَرْضُ أَوْ كُلِّمَ بِهِ
ٱلْمَوْتَىٰ ۗ بَل لِّلَّهِ ٱلْأَمْرُ جَمِيعًا ۗ أَفَلَمْ يَا۟يْـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن لَّوْ
يَشَآءُ ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۗ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ تُصِيبُهُم بِمَا
صَنَعُوا۟ قَارِعَةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ حَتَّىٰ يَأْتِىَ وَعْدُ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ ﴿٣١﴾

**او که داسې قرآن( کتاب) نازلیدی( چې د قرأت په اعجاز سره یې) غرونه په حرکت راتلی او ځمکه وربانديې ټوټه ټوټه کیدی یا وربانديې مړی په خبرو راتلی( نو بیشکه چې همدا عظیم الشأن قرآن به وی، ځکه همدا الهی کلام دی چې هغه وچ مغزی او سرتمبه شخصیتونه یې په روحانی ډول، له خپلو معاندانه سنګرونو راجلا کړل چې د غرونو په شان په کفر او شرک ولاړ او پابند وو، خو د ځینو لجوجو کافرانو ایمان نه راوړل په معجزو پورې هیڅ اړه نه لری) بلکه ټولې چارې د الله تعالی په واک کې دی نو آیا مسلمانان لا تر اوسه په دې نه پوهیږی چې که د الله تعالی اراده وشی ټول خلک به( په اجباری توګه) د هدایت په لاره برابرکړی( خو اجباری هدایت هیڅ ارزښت نه لری). او کافران تل د خپلو ناوړو اعمالو له امله، له سختو او لرزوونکو غمیزو سره مخامخ کیږی او یا یې په شاوخوا سیمو آفتونه او مصیبتونه راپریوزی او دا سلسله به د الله تعالی له قاطعانه وعدې تر پوره کیدو( یعنې د کافرانو د کامل شکست) تر وخته روانه وی. بیشکه چې الله تعالی خپله وعده هیڅکله هم نه ماتوی.**

وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ
فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾

**( یوازې په تا باندې ملنډې نه وهل کیږی) بلکه ستا نه وړاندې هم په پیغمبرانو باندې ملنډې وهل شوی، خو مونږ تل کافرانو ته یو څه وخت مهلت ورکړی او بیا مو په( سخت عذاب سره) نیولی دی. ګوره چې زمونږ عذاب او مجازات څنګه دی؟**

أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۗ وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلْ
سَمُّوهُمْ ۚ أَمْ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلْأَرْضِ أَم بِظَـٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِ ۗ بَلْ
زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا۟ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ
مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾

**آیا هغه ذات چې د خپل هر یوه بنده په کړنو مسلط او حاکم دی( د دوی له بې وسه خدایانو سره برابر دی؟ هیڅکله نه.) خو دوی بیا هم (د جهالت له مخې) له الله تعالی سره نور شریکان غوره کوی.( ای پیغمبره!) ورته ووایه: د خپلو باطلو خدایانو، نومونه( مشخصات، لیاقت او استعدادونه) بیان کړی، که داسې نه ده نو، تاسو په څمکه کې، الله تعالی ته هغه شیان منسوبوی چې هغه یې د خپلو شریکانو په حیث نه پیژنی، او یا دا چې تولې ادعاوی مو،پوچې او بې منطقه دی. بلکه واقعیت دادی چې کافرانو ته خپلې چلوټې او نیرنګونه ښکلی او معقول ځلیدلی او د الله له لاری منحرف شوی دی. او څوک چې( د بې کفایتی او نالایقی له امله) د الله تعالی له خوا په ګمراهی محکوم شی، هیڅ لاربنود ورته نشی پیدا کیدی.**

لَّهُمْ عَذَابٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْـَٔاخِرَةِ أَشَقُّ ۖ وَمَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن
وَاقٍ ﴿٣٤﴾

**د دوی لپاره په دنیا کې عذاب دی او د آخرت عذاب یې لا نور هم سخت او شدید دی او هیڅوک یې د الله تعالی له عذابه ژغورلی نشی.**

۞ مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ
أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا ۚ تِلْكَ عُقْبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا ۖ وَّعُقْبَى
ٱلْكَٰفِرِينَ ٱلنَّارُ ﴿٣٥﴾

**د هغه جنت صفت چې له پرهيزګارانو سره يې وعده شوې( دا دی چې د ونو) لاندې يې( د الهی نعمتونو) ويالې روانې دی، ميوې به يې تل ترتله تازه او سيوری به يې هم تل پاتې او ابدی وی، دا دی د پرهيزګارانو انجام، خو د کافرانو آخری مقام بيا د دوزخ اور دی.**

وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَفْرَحُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ ۖ وَمِنَ ٱلْأَحْزَابِ
مَن يُنكِرُ بَعْضَهُۥ ۚ قُلْ إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ أُشْرِكَ بِهِۦٓ ۚ إِلَيْهِ أَدْعُوا۟
وَإِلَيْهِ مَـَٔابِ ﴿٣٦﴾

**(ای پيغمبره!) هغه کسان چې پخوا مې ورته کتاب ورکړی( او بيا په اسلام هم مشرف شوی) د هغه کتاب په نزول ډير خوشحاله دی چې تاته درکړی شوی خو( د اهل کتابو) يو شمير ډلې د دې مبارک قرآن ځينې احکام نه منی. ورته ووايه: ماته امر شوی چې د واحد او لاشريک خدای بندګی او عبادت وکړم او څوک ورسره په خدايئ کې شريک ونه ګڼم. يوازې د هغه ذات لوری ته خلک رابلم او بيرته هم ( ټول په آخرت کې) د هغه حضور ته ورګرځو.**

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَمَا جَآءَكَ
مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾

**(او لکه څنګه چې مو له دې وړاندې، آسمانی کتابونه نازل کړی) قرآن مو هم د روښانه فرمان په حيث په عربی ژبه نازل کړ او که ته د قرآن پوهنې سره سره، بيا هم د دوی د خواهشاتو او فرمايشاتو پيروی وکړې نو( د الهی عذاب نه) د ځان ژغورنی لپاره به هيڅ دوست او مرستندوی ونه مومې.**

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَٰجًا وَذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ
لِرَسُولٍ أَن يَأْتِىَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾

او( ځيني کسان ستا د ميرمنو او اولادونو د موجوديت له امله په تا اعتراض کوی) مونږ چې ستا نه وړاندې کوم پيغمبران استولی ، ښځې او اولادونه مو هم ورته ورکړی وو، او هيڅ پيغمبر نشی کولی چې د الله تعالی له اجازی غير، کومه معجزه وړاندې کړی، بلکه د هر عصر د مقتضياتو سره سم مناسب احکام او معجزې دی.

يَمْحُوا۟ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴿٣٩﴾

څه چې الله تعالی يې وغواړی له منځه يې وړی او هر څه چې وغواړی، پخپل حال يې ثابت او مستحکم ساتی او « ام الکتاب» هم له الله تعالی سره دی.

وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ
وَعَلَيْنَا ٱلْحِسَابُ ﴿٤٠﴾

او که د هغو عذابونو يوه برخه( چې له کافرانو او ظالمانو سره يې وعده شوې)ته پخپل ژوند ووينې او که ستا له وفات نه وروسته ورباندې دوی اخته شی،( هيڅ پروا نشته) ستا وظيفه او رسالت ( د الهی وحې او احکامو) ابلاغ دی، حساب کتاب ورسره زمونږ کار دی.

أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا نَأْتِى ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَٱللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ
لِحُكْمِهِۦ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٤١﴾

آيا دوی نه پوهيږی چې مونږ( د اسلام په لاس بری او فتوحاتو سره) په دوی باندې ځمکه له هرې خوا راتنګوو( او کفری او مشرکانه رسوم او عنعنات له منځه وړو)الله تعالی خپل حکم صادروی او هيڅوک د هغه د حکم د تطبيق په وړاندې خنډ کيدی نشی او د الهی حساب کتاب سيستم هم بيا ډير چټک دی.

وَقَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ ٱلْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ
نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ ٱلْكُفَّٰرُ لِمَنْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٤٢﴾

**( له دې معاصرو) كافرانو نه وړاندې، د دوی اسلافو هم (د الله تعالی د احکامو په مقابل کې) دسیسې او پلانونه جوړول چې ټول الله تعالی ته معلوم( او شنډول یې) بیشکه چې الله تعالی د هر ساکښ په کړو وړو، ډیر ښه پوه او خبر دی. او کافران به ژر پوه شی چې(د آخرت نیک او بد انجام) د چا په برخه دی؟**

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسْتَ مُرْسَلًاۚ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَٰبِ ﴿٤٣﴾

**او کافران وایی چې ته د الله رسول نه یې. ورته ووایه چې زما او ستاسو ترمنځ( د مسألې د حل او زما د پیغمبری د اثبات لپاره) د الله تعالی ګواهی (د قرآن صریح آیتونه) او د آسمانی کتابونو د پوهانو او عالمانو ګواهی کفایت کوی.**

**« تمت سورة الرعد بعون الله وحسن توفيقه»**

**========================**